## د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د عدلیې وزارت

د عدلیې وزارت

د پالیسۍ او پلان ریاست

# د عدلیې وزارت پالیسي
# (قانون او عدالت)

**د ۱۳۹۶ کال د مرغومې میاشت، د ۲۰۱۸ کال د جنوري میاشت**

# د افغانستان اسلامي جمهوریت
# د عدلیې وزارت

## د مطالبو فهرست


۱. د عدلیې وزیر پیغام

۲. سریزه

۳. د وزارت لید لوری، ارزښت او اصول

- لید لوری
- ارزښت
- اصول

۴. د پالیسی محوري ټکي

۵. د وزارت کاري ساحې

- د قانون جوړولو چارې
- حقوقي خدمتونه
- د محجوزینو چارې
- اداره او مدیریت

۶. د پالیسی د تطبیق چوکاټ

- د پالیسی چوکاټ
- د تطبیق ساحه
- د همغږۍ رامنځته کول
- د ستراتیژۍ تدوین او تطبیق
- د پالیسی د سرچینو پېژندنه
- د پالیسی رهبري او څارنه

# د افغانستان اسلامي جمهوریت
# د عدلیې وزارت

## د عدلیې د وزیر پیغام

د عدلیې وزارت په استازیتوب خوښ یم چې د دغه وزارت پالیسی ته د عدلي او حقوقي پیاوړي شوي سیستم لرونکو هېوادونو له تجربو او د هغو کورنېو او بهرنېو کارپوهانو له تخنیکي سلا مشورو څخه په ګټې اخیستنې سره چې په عدلي سکتور کې له دغه وزارت سره همکاري لري، په راتلونکو پنځو کلونو کې د دې وزارت د کلي لید لوري او موخې د تحقق لپاره پراختیا ورکړل شوې ده.

د دې پالیسی اصلي موخه د عدلي سیستم د پیاوړتیا او د با کیفیته عدلي او حقوقي خدمتونو د وړاندې کولو له لارې، د قانون د واکمنۍ او د بشر د حقوقو په برخه کې د اساسي قانون د حکمونو تطبیق دی.

د دې پالیسی په تطبیق سره، د عدلیې وزارت هیله لري تر څو په ټول هېواد کې عدالت ته د لاسرسي زمینه مساعده کړي.

په دې وسیله د عدلیې وزارت د مشرتابه مقام له هغو ټولو اړوندو دولتي ارګانونو او بهرنیو مؤسسو څخه چې د پالیسی په پراختیا کې یې همکاري کړې ده مننه کوي. دغه راز هیله لري تر څو د دغې پالیسی د تطبیق لپاره خپل تخنیکي او مالي ملاتړ او مرستو ته دوام ورکړي.

**د قانون د لا زیاتي واکمنۍ او عدالت ته د لاس رسي په هیله.**

**ډاکترعبدالبصیر(انور)**

**د عدلیې وزیر**

# سریزه:

د قانون واکمني عدالت ته د لاسرسي، د بشر حقوقو ته د درناوي، د فساد د کچې د کمښت او له مجازاتو څخه د نه مصؤنیت یو کلیدي عنصر دی. د قانون واکمني یعنی د اسلام د معیارونو او اساساتو پربنسټ د یوه بې طرفه، عادلانه او د لاسرسی وړ عدلي او قضایي سیستم رامنځته کول او تطبیق دی چې د ژوندانه، مالونو او کورنۍ تأمینوونکی دی او د قانون په وړاندې د افرادو درناوی وکړي. د افغانستان دولت هوډمن دی تر څو شفاف، د لاسرسي وړ او مناسب عدلي قوانین چې ټول افغانان هغو ته لاسرسی ولري رامنځته کړي ترڅو له دې لارې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د قانون له واکمنۍ سره مرسته وکړي.

د پورتنیو مطالبو په پام کې نیولو سره، د عدلیې وزارت د خپل لید لوري (په ټول هېواد کې د قانون واکمي او عدالت ته لاسرسی) او د خپلې ستراتیژیکې موخې (د عدلي سیسټم پیاوړتیا او د با کیفیته عدلي او حقوقي خدمتونو وړاندې کول) په رڼا کې پالیسۍ ته پراختیا ورکړې ده ترڅو د تقنیني سندونو د طرحې، تسوید، تدقیق، او خپرولو، د خلکو د روزنې او په خپلو حقوقو د خلکو د پوهاوي، د حقوقي سلا مشورو د خدمتونو د وړاندې کولو او د بې وزلو مظنونینو او تورنو د حقوقو د دفاع، د عامه ګټو د دفاع، د خلکو د حقوقي شخړو د حل کولو، په مناسبو شرایطو کې تر حجز لاندې اطفالو د ساتنې او له قانون څخه د سرغړوونکو اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکزونو د چارو د څارنې او تنظیم له لارې د قانون د واکمنۍ په برخه کې مهم رول ولوبوي او ژمن دی چې په یادو برخو په تېره بیا د قضایاوو د مدیریت د سیسټم په برخه کې چې د محکمې د حکم تر نافذېدو پورې د یوه بانک په توګه د قضایاوو ثبت او راجستر کوي، خپلو فعالیتونو ته په ښه کیفیت او زیاتې پراختیا سره دوام ورکړي.

## د وزارت لید لوری، ارزښت او اصول

په دې پالیسی کې لید لوری، ارزښت او اصول د قانون د لا زیاتې واکمنی او عدالت ته د لاسرسي لپاره د عدلي او قضایي سکتور په تېره بیا د عدلیې وزارت مسئولیت په کوته کوي چې د هغو په رڼا کې ستراتیژي او برنامې طرح او تدوین شي.

- لید لوری

په ټول هېواد کې د قانون واکمني او عدالت ته لاسرسی.

- ارزښت

✓ د افغانستان اساسي قانون ته ژمنتیا او وفاداري

✓ د اسلام د مقدس دین اصولو ته درناوی او د دیني ارزښتونو ساتنه

✓ برابري او مساوات (عدالت)

✓ د تصمیمونو په نیولو کې بیطرفي او نه تبعیض

✓ ثبات او ټیکاو

- اصول

د عدلیې وزارت د با کیفیته عدلي او حقوقي خدمتونو په وړاندې کولو کې لاندې اصول رعایتوي:

✓ د وزارت په کاري ساحه کې په اساسي قانون کې د درج شوو حکمونو دفاع او رعایتول.

✓ په ټولو چارو کې د شفافیت او حساب ورکونې د اصل رعایتول.

✓ د با کیفیته (ګټورو، اغیزمنو د لاسرسی وړ او باوري) عدلي او حقوقي خدمتونو برابرول.

✓ د حقوقي شخړو د حل کولو او د محکمو د قطعي پرېکړو د تطبیق د بهیر د ګړندي کولو لپاره د ظرفیت لوړول.

✓ د فعالیتونو په ترسره کولو په تېره بیا په عدلي او قضایي سکتور کې ګډې هڅې او همغږي.

✓ عدلي او حقوقي خدمتونو ته انډولیز او متناسب لاسرسی.

**د دې پالیسی محوري ټکي:**

لاندې موضوعګانې او محورونه د عدلیې وزارت د ستراتیژیکې موخې د تحقق لپاره د دې وزارت د پالیسۍ او سیاست محوري ټکي او اساسي کرښې جوړوي:

- د وزارت په کاري ساحه کې، د دولت او حکومت په کچه د ملي ارزښتونو پیاوړتیا او په اساسي قانون کې د درج شوو حکمونو دفاع او رعایتول.
- د هېواد د تقنیني سندونو د تسوید، تدقیق، چاپ او خپرولو له لارې د قانون د واکمنۍ پیاوړتیا.
- محکمو ته له ارجاع مخکې د حقوقي، فامیلي، مدني او سوداګریزو شخړو د حل کولو لپاره د ظرفیت لوړول.
- په مدني او سوداګریزو قضیو کې د محکمو د قطعي پرېکړو د تطبیق د بهیر ګړندي کول.
- د دولت د شتمنیو، ملکیتونو او ګټو د ملاتړ او دفاع لپاره د ظرفیت لوړول.
- په اغېزمنه او دوامداره توګه د محجوزینو څارنه او ساتنه.
- د هېواد په ټولو ولایتونو کې د حقوقي مرستو د خدمتونو د سیستم رامنځته کول او پراختیا.
- د هېواد په ټولو ولایتونو کې په بېلابېلو عدلي او قضايي پړاوونو کې د قضیو د تحلیل او څېړنې په مقصد د یوې باوري اماري سرچینې په توګه د قضیو د ثبت مدیریت د سیستم پیاوړتیا او پراختیا.
- د ټول هېواد په کچه د حقوقي عامه پوهاوي د برنامې پراختیا او همغږي کول.
- د هېواد په کچه د ښاریانو له عمومي آزادیو، اساسي حقوقو، دیموکراسۍ او د بشر حقوقو څخه دفاع.
- د بشري سرچینو پیاوړتیا او د اداري ریفورم تطبیق.
- د فزیکي بنسټونو رامنځته کول او پراختیا.
- د دولت له نورو پروګرامونو سره په تېره بیا په عدلي او قضايي سکتور کې د همکارۍ او همغږۍ پیاوړتیا.

**د وزارت کاري ساحې:**

**۱. د قانون جوړولو چارې:**

**موخه:** د ټولنې له اساسي اړتیاوو او ملي او بین المللي میعیارونو سره سم د قوانینو د چوکاټ بشپړول او د هېواد د اړتیاوو د لرې کولو لپاره د هغو چاپ او وېش.

**پایله:** د قوانینو په برخه کې د ادارو او ښاریانو د اړتیاوو لرې کېدل.

**فعالیتونه:**

۱/۱ د تقنیني سندونو بیا کتنه، طرح، تسوید، تدقیق او تعدیل.

۱/۲ د قوانینو چاپ، خپرول او وېش.

**۲. حقوقي خدمتونه:**

**موخه:** د بې وزلو مظنونینو او تورنو له حقوقو څخه دفاع، له عامه شتمنیو څخه ملاتړ، حقوقي دعواوو ته رسیدګي، د ښاریانو د حقوقي پوهې لوړول او د دموکراسی پیاوړتیا.

**پایله:** عدالت ته د لاسرسي د کچې لوړول.

**فعالیتونه:**

۲/۱ د حقوقي مرستو وړاندې کول.

۲/۲ د عامه شتمنیو ملاتړ او دفاع.

۲/۳ د قضایاوو د مدیریت د سیستم پیاوړتیا او د معلوماتو د ساتنې لپاره د قضایاوو د مدیریت د سیستم په ډیتابیس کې د قضیو ثبت.

۲/۴ د مصالحې او منځګړیتوب له لارې د حقوقي قضیو حل او فصل.

۲/۵ د دموکراسی او د بشر د حقوقو پیاوړتیا.

**۳. د محجوزینو چارې.**

**موخه:** د اصلاح په مرکزونو کې د بشر د حقوقو د اساساتو او معیارونو پیاوړتیا او پراختیا، لېترلږه په نړیوالو میعیارونو د اصلاح د مرکزونو عیارول او د محجوزینو د ساتنې، اصلاح او بیا روزنې لپاره د با کیفیته عدلي او حقوقي خدمتونو وړاندې کول.

**پایله:** د اطفالو بیا روزنه او له ټولنې سره د هغوي بیا ادغام.

**فعالیتونه:**

۳/۱ د محجوزینو خوندي ساتنه.

۳/۲ فني او حرفوي زده کړې.

**۴. اداره او مدیریت:**

**موخه:** د یوې سالمې اداري رامنځته کول او د عدلیې وزارت د ستراتیژۍ په اړوند د دغه وزارت د برنامو په پلي کولو کې د چټکتیا په منظور د باکیفیته اداري، فني او تخنیکي خدمتونو وړاندې کول.

پایله: د کارکوونکو د کاري چاپېریال ښه والی او د ظرفیت لوړول.

**فعالیتونه:**

۴/۱ د اداري خدمتونو وړاندې کول.

۲.۴ د فني او تخنیکي خدمتونو وړاندې کول.

**د پالیسۍ د تطبیق چوکاټ:**

- **د پالیسۍ چوکاټ**

په راتلونکو پنځو کلونو کې د عدلیې وزارت د پالیسۍ چوکاټ دا دی چې د هېواد په قوانین باندې په تېره بیا په جزایي، مدني، او سوداګریزو قوانینو باندې له اساسي قانون او له هغو بین المللي میثاقونو او کنوانسیونو سره سم چې افغانستان ورسره ملحق شوی دی بیا کتنه وکړي، د خلکو د اړتیا وړ قوانین چاپ او د هېواد په ګوټ ګوټ کې یې خپاره کړي. خلک د هغوی د حقوقو او وجیبو په اړوند ورروزي او پوهاوې ورکړي. بې وزله مظنونو او تورنو ته حقوقي سلا مشورې او مرستې وړاندې کړي، د وزارت مسلکي کادرونه دې د حقوقي زده کړې د ملي خپلواک مرکز له لارې ورروزي، د خلکو د حقوقي او مدني دعواوو حل کول دې ښه کړي، د دولتي املاکو دفاع دې ښه کړي، د محجوزینو امنیت او د ژوندانه شرایط دې ښه کړي، د حقوقي رسمي سندونو ژباړې ته د حکومتي ادارو اړتیاوې دې لرې کړي، دفترونه دې خلکو ته د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره سمبال کړي او لازم وسایل، تجهیزات او وسایط دې برابر کړي او دموکراسي دې د سیاسي ګوندونو او د ټولنیزو سازمانونو د ثبت له لارې پیاوړې کړي.

**د تطبیق ساحه**

د دې پالیسۍ د تطبیق ساحه په مرکز او ولایتونو کې د عدلیې وزارت اړونده واحدونه او هغه ملي او بین المللي همکاران چې په دې کار کې د ستراتیژیکې موخې د تحقق لپاره د عدلیې له وزارت سره همکاري کوي، تشکیلوي.

- **د همغږۍ رامنځته کول**

په اغیزمنه توګه د دې پالیسۍ د تطبیق لپاره، د پلان او پالیسۍ ریاست د هغو اړوندو بنسټونو او ارګانونو ترمنځ چې د عدلیې له وزارت سره مرسته کوي، د همکارۍ او همغږۍ د روحیې د رامنځته کولو مکلفیت لري او هڅه کوي چې په همغږه او منسجم ډول د دې پالیسۍ د تطبیق لپاره له یوبل سره همکاري وکړي.

- **د ستراتیژۍ تدوین**

په اغیزمنه توګه د دې پالیسۍ د تطبیق لپاره، د دې وزارت د پالیسۍ او پلان ریاست، د راتلونکو پنځو کلونو د ستراتیژۍ او ستراتیژیک پلان د تدوین مکلفیت هم لري.

- **د پالیسۍ دسرچینو پېژندنه**

په اغیزمنه توګه د وزارت د پالیسۍ د تطبیق په غرض لازمه بلل کیږي ترڅو ملي او بین المللي همکاران په دې کار کې له عدلیې وزارت سره مرسته وکړي.

- **د پالیسۍ رهبري او څارنه**

د وزارت د مشرتابه مقام او د مرکز او ولایتونو په کچه اړونده واحدونه په خپل ستراتیژیکي مدیریت کې د پالیسۍ رهبري او څارنه په غاړه لري.

**پای**